

RICH'S®

# هر يو امتياز په دقت سره اندازه شوی

myRewards | Benefits




## نور يې وخت دی چې د 2026 لپاره خپل امتيازونه وټاکئ.

په Rich's کې موږ له خپلو همکارانو سره د کورنۍ د غړو په څېر چلند کوو. ستاسو روغتيا او هوسا‌ينه—په کار کې او په کور کې—زموږ لپاره ارزښت لري. له همدې امله موږ يو لړ امتيازونه وړاندې کوو چې تاسو يې کولای شئ د خپلې کورنۍ له اړتياوو سره سم تنظيم کړئ، تر څو مو خپل ژوند په خپله خوښه پر مخ يوسئ.

## د 2026 کال لپاره څه شی نوي دي؟

**موږ ستاسې غږ اورېدلی** — او ستاسو د نظرياتو پر بنسټ مو مهم بدلونونه راوستي دي. دا چې سږ کال د څه تمه ولرئ دلته يې يوه لنډه کتنه راغلې ده:

- **نوي روغتيايي پلانونه.** د Highmark Blue Cross Blue Shield (BCBS) له لارې، تاسې د هېواد تر ټولو سترې روغتيايي شبکې ته لاسرسی لرئ. په کاليفورنيا کې، Kaiser لا هم يو اختياري غوراوی ده.
- **روښانه او ساده انتخابونه.** موږ د غاښونو، سترګو او داوطلبانه امتيازاتو خدمات د يوه وړاندې کوونکي—MetLife له لارې سره يو ځای کړي دي.
- **د متوازن پلان غوراوي.** هر غوراوی داسې ډيزاين شوی چې د پوښښ، لګښت او ملاتړ ترمنځ توازن وساتي، تر څو د مختلفو اړتياوو لپاره مناسب وي.
- **ساده شوی د درملتون خدمات.** ستاسو د نسخه يي درملو پلان ExpressScripts له لارې چې د Evernorth (ESI) له خوا وړاندې کېږي، تاسو ته د هېواد په کچه د در ملتونونو پراخې شبکې ته لاسرسی ډاډمنوي او د غوښتنې په صورت کې د پستي سفارش له لارې کولای شئ خپل درمل مستقيماً د خپل کور په دروازه کې تر لاسه کړئ او په لګښتونو کې سپما وکړئ.
- **د رواني روغتيا لپاره نورې سرچينې.** د محرمانه مرستې پراخ شوی پروګرام (Confidential Assistance Program (CAP)) چې د Spring Health له لارې وړاندې کېږي، اسانه، محرمانه درملنه، مشوره او نور خدمات برابروي.

## دا چانس له لاسه مه ورکوئ

له همدا اوس څخه خپل انتخابي غوراوي وڅېړئ، تر څو د **اکتوبر 27 دوشنبه او د نومبر 7 جمعې ورځ پورې په ډاډمنه توګه تصميم ونيسئ.**

**مهمه يادونه:**

هېڅ ډول اتومات تمديد نشته— که تاسو سږ کال نوملیکنه ونه کړئ، نو په 2026 کال کې به د Rich's پوښښ ونه لرئ.

# کلیدي سرچینې

**خپل غوراوي وڅېړئ.** د نوملیکنې د خلاصې دورې (Open Enrollment) له پیلیدو مخکې، د **MyRichsBenefits.com** (زموږ د نویو امتیازونو وړوکی سایټ) وېب پاڼې ته لاړ شئ تر څو د خپلو انتخابونو په اړه معلومات ترلاسه کړئ، پلانونه سره مقایسه کړئ او د ډاډمن تصمیم نیولو لپاره اړین معلومات ترلاسه کړئ.

**ځوابونه په چټکۍ تر لاسه کړئ.** د مرستې مرکز (Help Center) د FAQ (زیاتره پوښتل شوې پوښتنې) برخه وګورئ، هلته به تاسې د مهلتونو، پوښښ او نورو اړوندو موضوعاتو په اړه تازه او واضح معلومات پیدا کړئ.

**د شبکې دننه طبي خدمات چک کړئ.** د یو **Highmark Find a Doctor (های مارک یو ډواکتر وموميځ)** وسیله وکاروئ، او دا ګزینه «ایا د خپلې بیمې درې لومړي توري نه پېژنئ؟ (Don't know your alpha prefix?) د پلانونو لیکلړ راپورته کړئ (Browse a list of plans)» وټاکئ. بیا د طبي شبکې "PPOBlue" لټون وکړئ تر څو د شبکې دننه د خدماتو وړاندې کوونکي پیدا کړئ.

سر له **دوشنبې، د اکتوبر 20** څخه، تاسو به د Collective Health له متخصص ټیم سره په 24/7 توګه لاسرسی ولرئ، چې چمتو دي ستاسو روغتیایي او درملتون اړوند پوښتنو ته ځواب ووایي. تاسې کولای شئ Collective Health ته په لاندې شمېره زنګ وهلو سره اړیکه ونیسئ: **1-855-242-5559.**

د MyRichsBenefits.com لیدلو لپاره یې سکن کړئ

د Highmark Find a Doctor (های مارک یو ډواکتر وموميځ) وسیلې لپاره یې سکن کړئ

هغه همکاران چې د جمعي معاملې هوکړه لیک (Collective Bargaining Agreement (CBA)) لاندې پوښل شوي، باید د خپل ځانګړي پلان جزئیاتو لپاره خپل هوکړه لیک ته مراجعه وکړي.

## چمتو شئ

**د نوملیکنې خلاصه دوره (Open Enrollment) له دوشنبې، د اکتوبر 27څخه پیلېږي او تر جمعې، د نومبر 7 پورې دوام مومي.**

### انلاین نوملیکنه

د اکتوبر له 27 څخه، تاسې کولای شئ د کمپیوټر یا موبایل له لارې د Alight پورټال څخه نوملیکنه وکړئ. د چټک لاسرسي لپاره دا QR کوډونه سکن کړئ:

د Alight پورټال ته د لاسرسي لپاره یې سکن کړئ

د Alight پورټال اپلیکیشن ډانلوډ کړئ Apple App Store

د Alight پورټال اپلیکیشن په Google Play کې ډانلوډ کړئ

### د تلیفون له لارې نوم لیکنه

د خلاصې نوملیکنې (Open Enrollment) په جریان کې، تاسې کولای شئ د Alight د پیرودونکو د پاملرنې استازي (Customer Care Representative) سره خبرې وکړئ. هغوی کولای شي د ژباړې په برخه کې مرسته وکړي، د تلیفون له لارې په امتیازاتو (benefits) کې ستاسې نوملیکنه وکړي او ستاسو نورو پوښتنو ته ځواب ووایي.

**د ملاقات وخت تنظیم کړئ یو داسې وخت وټاکئ چې ستاسو لپاره مناسب وي**

زنګ ووهئ: **1-800-455-2587**، 1 غوراوی،
له دوشنبې تر جمعې، د سهار له 8 د ماښام
تر 9 بجو د امریکا د ختیځ وخت (ET) له مخې.

